د افغانستان اسلامي امارت

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

خُطْبَةُ الجُمُعَة

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

په اسلامي امت باندې د اللّٰه تعالی له لويو نعمتونو څخه يو نعمت دادی چې ځينې داسې غوره او ځانګړي وختونه يې ورته ټاکلي دي، چې په هغو وختونو کې دنيک عمل اجر ډير زيات وي او پکې د بندګانو ګناهونه معاف کيږي او لوړې درجې يې په برخه کيږي.

يو له هغو غوره وختونو او لويو نعمتونو څخه د جمعې مبارکه ورځ ده، چې اللّٰه تعالی د اسلامي امت لپاره ځانګړې کړې او د مسلمانانو لپاره يې د اونۍ اختر ګرځولې ده، لکه څنګه چې حضرت ابو هريرة -رضي اللّٰه عنه- روايت کوي، وايي: ما له رسول اللّٰه -صلى اللّٰه عليه وسلم- څخه اوريدلي دي، ويل يې: «نَحْنُ الْآخِرُونَ السَّابِقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، بَيْدَ أَنَّهُمْ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا، ثُمَّ هَذَا يَوْمُهُمُ الَّذِي فُرِضَ عَلَيْهِمْ، فَاخْتَلَفُوا فِيهِ، فَهَدَانَا اللَّهُ، فَالنَّاسُ لَنَا فِيهِ تَبَعٌ، الْيَهُودُ غَدًا، وَالنَّصَارَى بَعْدَ غَدٍ» متفق عليه. يعنې: مونږ (په دنيا کې د وخت او زمان له مخې) وروستۍ امت يو او (د قيامت په ورځ به د فضيلت، درجې او جنت ته د داخلېدو له مخې) تر پخوانيو امتونو مخکې يو، خو يوازې دومره ده، چې دوی (يهودو اونصاراوو) ته تر مونږ مخکې کتابونه ورکړل شوي دي، بيا دا (د جمعې ورځ) هغه ورځ ده چې لمانځل يې پر دوی باندې فرض کړای شوي وو، خو دوی پکې اختلاف وکړ او مونږ ته اللّٰه تعالی راوښوده، نور خلک (يهود او نصاری) له مونږ نه پکې وروسته دي، يهود سبا (د شنبې ورځ لمانځي) او نصاری بل سبا (د يکشنبې ورځ لمانځي).

او اللّٰه تعالی په دې ورځ کې پر مسلمانانو باندې د جُمعې لمونځ فرض کړی او د جُمعې د خطبې اوربدل يې وربانديې واجب کړي دي، فرمايي: {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ} (الجمعة:٩). ژباړه: اې مؤمنانو! کله چې د جمعې په ورځ د لمانځه لپاره غږ

(اذان) وشي، نو د الله د ذکر (خطبې) خوا ته وځغلئ او پېرل اوپلورل (رانیول او خرڅول) پریږدئ.

داچې له څه باندې څلورو لسیزو ناخوالو، کړاوونو، هجرتونو او ښکېلاک وروسته په ټول هېواد کې - لله الحمد - اسلامي امارت حاکم او ټول هېواد د یو امیر {امیر المؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله آخندزاده حفظه الله} او اسلامي نظام تر سیوري لاندې رهبري کیږي او د ټولو هېوادوالو ترمنځ د مینې او ورورګلوی فضاء قایمه ده، د ارشاد، حج او اوقافو وزارت وینې چې د هېواد په جوماتونو کې مختلفې خطبې په مختلفو صیغو او بڼو سره وړاندې کیږي، چې په حقیقت کې د جوماتونو ترمنځ نه همغږي ښیي، ددې وزارت د مقام څخه علماوو او خطیبانو په دوامداره توګه غوښتنه درلوده ترڅو یوه واحده منل شوې خطبه ترتیب کړي، بناءً یاد وزارت لازمه بولي، څو د هېوادوالو د لا زیات یووالي او وحدت څرګندولو په موخه په ټولو جوماتونو کې یوه خطبه وړاندې کړي.

او داچې د جمعې خطبه خپل آداب او مستحبات لري او له مستحباتو څخه یې یو مستحب د وخت امیر او حاکم ته د خیر او صلاح، په شریعت باندې د استقامت او پر دښمنانو د بري دعاء کول دي،

د وخت سلطان او بادشاه ته دعاء هغه څه دي چې د صحابه وو په زمانه کې به کیدله لکه د کوفې امیر ابو موسی الاشعري رضي اللّٰه عنه چې په خطبه کې حضرت عمر رضي اللّٰه عنه ته چې د مسلمانانو امیر او خلیفه ؤ دعاء وکړه.

(ردالمحتار، حاشية ابن عابدين: ج ٣، ص ٥٦، طبع: القاهرة)

ابن عابدین رحمه اللّٰه وایي: (او په دغه وخت کې زیات صحابه ژوندي وو خو چاېې مخالفت ونه کړ... ددې زمانې سلطان او بادشاه د بل هر وخت څخه زیات دعاء ته محتاج دی تر څو هغه ته او دهغه ماتحت امیرانو ته د صلاح او په دښمنانو د بري دعاء وشي). (حاشية ابن عابدين: ج ٣، ص ٥٦)

قال الإمام أحمد بن حنبل و الفضيل بن عياض: لوكانَ لنا دعوة مستجابة لدعونا بها لإمام عادل لأن في صلاحه صلاح المسلمين. (كتاب الفروع ج: ٣، ص ١٧٨ و حلية الاولياء ج ٨، ص ٩١)

همداراز د عثماني خلافت په دوران کې به په خطبو کې عثماني خلفاوو ته دعاء کيدله.

ابن عابدين وايي: (أما ما اعتيد في زماننا من الدعاء للسلاطين العثمانية أيّدهم اللّٰه تعالى كسلطان البرين والبحرين وخادم الحرمين الشريفين فلا مانع منه واللّٰه تعالى أعلم). (حاشية ابن عابدين: ج ٣، ص ٥٦)

د پورتنيو شواهدو او متوارث تعامل په بناء د ظاهر شاه په وخت کې به هم ده ته په خطبو کې دعاء کيدله.

او د افغانستان اسلامي امارت په لومړي دور دحاکميت کې هم د وخت امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه اللّٰه ته دعاء کيدله.

په همدې موخه د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د ټول هېواد د امامانو او خطيبانو لپاره معينه خطبه ترتيب او چمتو کړه، چې د خطبې ټول ارکان، سنتونه او آداب پکې رعايت شوي دي او د افغانستان اسلامي امارت دمقام له خوا تصويب شوې ده، بناءً د هېواد پر ټولو امامانو او خطيبانو لازمه ده، چې د جمعې په ورځ د همدغې خطبې په ويلو سره د خپل اتفاق، او يووالي څرګندونه وکړي.

شيخ الحديث مولوي نور محمد ثاقب

د ارشاد، حج او اوقافو وزير

١۴۴٣ هـ ق

الْخُطْبَةُ الأُوْلٰى

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلِيِّ الذَّاتِ، عَظِيْمِ الصِّفَـــــاتِ، سَمِيِّ السِّمَاتِ، كَبِيْرِ الشَّأْنِ. جَلِيْلِ القَدْرِ، رَفِيْعِ الذِّكْرِ، مُطَاعِ الْأَمْرِ، جَلِيِّ الْبُرْهَانِ. فَخِيْمِ الْاِسْمِ، غَزِيْرِ الْـعِلْمِ، وَسِـيْعِ الْحِلْمِ، كَثِيْرِ الْغُفْرَانِ. جَمِيْلِ الثَّنَاءِ، جَزِيْلِ الْعَطَاءِ، مُجِيْبِ الدُّعَاءِ، عَمِيْمِ الْإِحْسَانِ. سَرِيْعِ الحِسَابِ، شَدِيْدِ الْعِقَابِ، أَلِيْمِ العَذَابِ، عَزِيْزِ السُّلْطَانِ.

وَنَشْهَدُ أَن لَّا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيكَ لَهُ فِي الخَلْقِ وَالْأَمْرِ. وَنَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُـوْلُهُ. المَبْعُـوْثُ إِلَى الْأَسْوَدِ وَالْاَحْمَرِ، المَنْعُـوْتُ بِشَرْحِ الصَّدْرِ وَرَفْعِ الذِّكْرِ. وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيهِ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ الَّذِينَ هُمْ خُلَاصَةُ الْعَرَبِ العَرْبَاءِ وَخَيرُ الخَلَائِقِ بَعْدَ الأَنْبِيَاءِ.

أَمَّا بَعدُ؛ فَيَا أَيُّهَا النَّاسُ! وَحِّدُوا اللّٰهَ؛ فَإِنَّ التَّوْحِـيْدَ رَأْسُ الطَّاعَاتِ، وَاتَّقُـــوا اللّٰهَ! فَإِنَّ التَّقْوَى مِلَاكُ الحَسَنَاتِ، وَعَلَيْكُمْ بِالسُّنَّةِ؛ فَإِنَّ السُّنَّةَ تَهْدِي إِلَى الْإِطَـــاعَةِ، وَمَنْ أَطَاعَ اللّٰهَ وَرَسُـــولَهُ، فَقَدْ رَشَدَ وَاهْتَدَى، وَإِيَّاكُمْ وَالبِدْعَةَ؛ فَإِنَّ البِدْعَةَ تَهْدِي إِلَى الْمَعْصِيَةِ، وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ، فَقَدْ ضَلَّ وَغَوٰى، وَعَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ؛ فَإِنَّ الصِّدْقَ يُنْجِـــي

وَالْكَذِبَ يُهْلِكُ، وَعَلَيْكُمْ بِالإِحْسَـــــانِ؛ فَإِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ، وَلَا تَقنَطُوْا مِن رَّحمَةِ اللهِ؛ فَإِنَّهُ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ، وَلَا تُحِبُّوا الدُّنْيَا فَتَكُونُوا مِنَ الخَاسِرِينَ أَلَا وَإِنَّ نَفْســاً لَنْ تَمُــوتَ حَتَّى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا، فَاتَّقُــوْا اللهَ، وَاَجْمِلُــوْا فِي الطَّلَبِ، وَتَوَكَّلُوْا عَلَـيْهِ؛ فَإِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ، وَادْعُوْهُ، فَإِنَّ رَبَّكُمْ مُجِــــيْبُ الدَّاعِينَ، وَاسْتَغفِرُوْهُ يُمْدِدْكُمْ بِأَموَالٍ وَبَنِينَ.

أَعُــوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ: وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُــونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَــــــادَتِي سَيَدْخُلُــــوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِيْنَ. بَارَكَ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ فِي الْقُرْآنِ الْعَظِيْمِ، وَنَفَعَنَا وَإِيَّاكُمْ بِالْآيَاتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيمِ، أَسْتَغْفِرُ اللهَ لِيْ وَلَكُمْ وَلِسَائِرِ الْمُسْلِمِينَ، فَاسْتَغْفِرُوْهُ، إِنَّهُ هُوَ الْغَفُــوْرُ الرَّحِيْمِ.

الْخُطْبَةُ الثَّانِيَةُ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ، وَ نَسْتَغْفِرُهُ ، ونُؤْمِنُ بِهِ، وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلا هَادِيَ لَهُ ، ونَشْهَدُ أَن لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَمَولاَنَا مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، أَرْسَلَهُ بِالْحَقِّ بَشِيراً وَنَذِيراً بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ. مَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْرَشَدَ، وَمَنْ يَعْصِ اللّٰهَ وَرَسُولَه، فَإِنَّهُ لَا يَضُرُّ إِلاَّ نَفْسَهُ، وَلاَ يَضُرُّ اللّٰهَ شَيْئاً

أَعُــوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْم: إِنَّ اللهَ وَمَلاَئِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيماً.اَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُــولِكَ، وَصَلِّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ، وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ، وَبَارِكْ عَلَى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ، وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّاتِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ.

قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم : (أَرْحَمُ أُمَّتِي بِأُمَّتِي أَبُــــوْ بَكْرٍ، وَأَشَدُّهُمْ فِي أَمْرِ اللهِ عُمَرُ، وَأَصْدَقُهُمْ حَيَاءً

عُثْمَانُ، وَأَقْضَاهُمْ عَلِيٌّ ، وَفَاطِمةُ سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَالحَسَنُ وَالحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الجَنَّةِ، وَحَمْزَةُ أَسَدُ اللهِ وَأَسَدُ رَسُولِهِ، رِضْوَانُ اللهِ تَعَالىٰ عَلَيْهِم أَجْمَعِيْن. اَللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْعَبَّاسِ وَوَلَدِهِ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً لَا تُغَادِرُ ذَنْبًا. اَللّٰهَ! اَللّٰهَ! فِيْ أَصْحَابِيْ لَا تَتَّخِذُوهُمْ غَرَضاً بَعْدِيْ ، فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّيْ أَحَبَّهُمْ، وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ، فَبِبُغْضِيْ أَبْغَضَهُمْ، وَخَيْرُ أُمَّتِيْ قَرْنِيْ، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُم).

اَللَّهُمَّ أَيِّدِ الْإِسْلَامَ وَالْمُسْلِمِيْنَ، بِبَقَاءِ شَرِيْعَةِ سَيِّدِ الأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ، وَبِدَوَامِ إِمارَةِ أَمِيْرِ الْمُؤْمِنِيْن، الْمُجَاهِد الشَّيْخ هِبَةُ اللهِ (حَفِظَهُ اللهُ وَرَعَاهُ). اللَّهُمَّ وَفِّقْهُ وَوَفِّقْ جَمِيْعَ وُلاةِ أُمُوْرِنَا لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضىٰ، وَوَفِّقْهُمْ جَمِيْعًا لِمَا فِيْهِ صَلَاحُ العِبَادِ وَالْبِلَادِ، وَانْصُرْهُمْ عَلَى أَعْدَائِكَ وَأَعْدَائِنَا وَأَعْدَاءِ الدِّيْنِ. وتَقَبَّلِ اللَّهُمَّ شَهَادَةَ شُهَدَاءِنَا وَشُهَدَاءِ جَمِيْعِ الْمُسلِمِينَ. اَللَّهُمَّ اجْعَلْ هَذَا الْبَلَدَ آمِنًا مُطْمَئِنًّا سَخَاءً رَخَاءً وَسَائِرَ بِلَادِ الْمُسْلِمِيْنَ.

عِبَادَ اللهِ! رَحِمَنِيْ وَرَحِمَكُمُ اللهُ، إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيْتَاءِ ذِي الْقُرْبىٰ وَيَنْهىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ

وَالبَغْيِ ، يَعِظُكُم لَعَلَّكُم تَذَكَّرُونَ ، فَـــــاذْكُرُوا اللهَ يَذْكُرْكُمْ ، وَادْعُوهُ يَسْتَجِبْ لَكُمْ ، وَلَذِكْرُ اللهِ تَعَالىٰ أَعْلىٰ وَأَوْلىٰ وَأَجَلُّ وَأَتَمُّ وَأَهَمُّ وَأَعْظَمُ وَأَكْبَرُ ، وَاللهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ .